# د مقالی عنوان: اقلیمی توافق (څنګه کولی شو د اقلیمی بدلون سره توافق وکړو
# لیکوال: روح الله هدف

اقلیمی بدلون د ځمکې په نړیوال اقلیم کې په اوسط ډول اوږد مهاله تغیراتو ته ویل کیږي او د نړیوالي تودوخې له امله رامنځ ته راځي. دا حالت یواځې تر تودوخې محدود نه دی او فزیکي تغیرات له سیلابونه، طوفانونه او وچکالی ورسره تړلي دي. دا حالت د انساني کړنو په خاص ډول د صنعتي انقلاب له امله په اتمسفیر کې د ګل خانه یي ګازونو له زیاتوالي له امله رامنځ ته شوی دی چې دغه ګازونه د ځمکې لخوا جذب شوی تودوخه بیرته فضا ته نه پریږدي او د تودوخې اعظمی حالتونه یي رامنځ ته کړي دي. اقلیمی بدلون د انسانانو، ژوندیو موجوداتو او طبیعت لپاره یوه منل شوی خطر دی. دا یو منل شوی حقیقت دی چې د اقلیمی تغیر اثرات او پایلي ویجاړونکي او سمدستي دی. ددی ننګوني ستر شواهد نور حیث پټ نه دي. د تودوخې لوړیدل (Global Warming) ، د سمندر د سطحی پورته کیدل(Sea level Rising) او د یخچالونو په ویلو کیدو (Glacier Melting) سره یي په چاپیریال کې د پام وړ او حیرانوونکي تغیرات رامنځ ته کړي دی. د نړي اکثره خلک همداوس د اوبو د کموالی، ګرمو څپو، ځنګلی اورونو او د خطرناکو او شدیدو اوربښتونو او سیلابونو سره لاس او ګریوان دی چې دغه نازک حالت اصلی قربانیان ساحلي ټولنی، دهقانان، ښاري خلک او په ټوله کې هغه هیوادونه دي چې غریب دی او اقتصاد یي په زراعت پورې تړلي دی. که څه هم د زرغون اقلیم صندوق (Green Climate Fund) ددغو هیوادونو سره د فارس د تړون، چې په اتمسفیر کې د ګل خانه یي ګازونو د کموالي پخاطر رامنځ ته شوی دی، په پلي کولو کې مرسته کوي. په اتمسفیر کې د ګل خانه یي ګازونو اندازه د تیرو ۶۵۰۰۰۰ کلونو کې په لومړي ځل په دومره لوی مقدار سره ثبت شوی ده. د ۱۹ ګرمو کلونو څخه یي ۱۸ یوازې د ۲۰۰۱ میلادي کال راپدیخوا ثبت شوی دي او په تیرو سلو کلونو کې د بحر سطحه د ۱۷۸ مترو په اندازه لوړه شوي ده او همداسي لوړیږي.

د اقلیم پر وړاندي هلي ځلي پر دوه برخو ویشل شوي دي. لومړي د اقلیمی تغیر د کمولو هڅې چې دا په اتمسفیر کې د ګل خانه یي ګازونو په کمولو پورې اړه لري او دوهم د اقلیمی بدلون سره د توافق هڅې دی چې دا په داسې سیستمونو کار کول دي چې د اقلیمی بدلون پر وړاندي مقاومت وکړي شي. خو ساینس پوهان دغه دواړې پروسې د یو سکی دوه مخه ګڼي چې د یو له بل څخه نه جدا کیږي او باید دواړه پر یو وخت پر مخ وي وړل شي.

د کوفینهیګن تړون Copenhagen Agreement په ۲۰۱۵ میلادی کال کې ددې لپاره رامنځ ته شو چې د داسې فرصتونه لپاره زمینه رامنځ ته کړي چې د اقلیمي تغیر موضوع او ایجندا په یو قوی موقف سره مخ په وړاندي یوسي او د اقلیمي توافق لپاره یوه ډیره آسانه او قوی تګلاره رامنځ ته کړي.

اقلیمی توافق د اقلیمی بدلون د تاثیراتو او نتایجو په ځواب کې په ټولنیز، سیاسی، اقتصادی او ایکولوژیکي سیستمونو کې داسی اصلاحاتو راغوستو څخه عبارت دی چې د اقلیمی بدلون په وړاندي مقاومت وکړي او د اقلیمي تغیر د اټکل کیدونکو ویجاړیو مخنیوی وکړي. دا هغه تغیرات دی چې په پروسو، عمل او شکل کې ددې لپاره منځ ته راځي چې د اقلیمی بدلون د توان کچه ټیټه شي او یا ممکن د هغې څخه استفاده واخلو. په ساده اصطلاح باید ټولني او هیوادونه هغه تګلاري او د توافق حل لارو باندې کار وکړي د اقلیم تغیر شته اثرات له منځه یوسي او په راتلونکي کې پیښدونکي پیښنو لپاره تیار آماده ووسي.

اقلیمي توافق یو کوچني مسیر نه دي مګر دا د ډیرو اجزاوو مجموعه ده چې دولتی، د دولت پالیسی، غیردولتی سکتور، تجارت، زراغت، د طبیعي پیښنو پروړاندې مبارزه، وچکالی، د انرژی منابع، حیات تنوع او داسي ډیرو نورو اړخونو په نظر کې نیولو وروسته جوړیږي.

د اقلیمي تغیر سره توافق پالیسی یا Climate Adaptation په لومړني حالت کې ده او تر ډیره نورو څیړنو او کره معلوماتو ته اړتیا لري مګر اوس هم هیوادونه د اقلیمي توافق په ملی، سیمیزو او نړیوالو پلانونو کار کوي او دغه موضوع د اقلیمی او چاپیریالي بحثونو د سر موضوع ده.

د ملګرو ملتونو د اقلیمي تغیر په کنوینشن په ۱۹ غونډه کې مختلفو اړخونو د زرغون اقلیم صندوق غوښتې چې له هیوادونو سره په ملی توافق پلان (National Adaptation Plans-NAPs) په جوړولو او عملي کولو کې مالی همکاری وکړي. په افغانستان کې د زرغون اقلیم صندوق لخوا په ۲۰۲۰ میلادی کال کې د چاپیریال ساتنې ملی اداري په ملتیا لومړی پروژه اعلان شوه.

د اقلیمي توافق د ډیزاین لپاره ساینسی بحث ډیر ضروري دی او د اقلیمی تغیر په هر اړخ پوهیدل چې یو ستونزمن کار دی خورا اړین دی.

د اقلیمی تغیر په اړه د بین المللی هیت یا (Intergovernmental Panel on Climate Change) IPCC لخوا د نړیوالي تودوخي سره تړلي خطرات په پنځو برخو ویشل شوی دی.

1. هغه خطرات چې ایکوسیستمونه ګواښي. مثلا استوای یخچالونه، کورل ریف(Coral Reefs) له لمنځه تلل.
2. هغه خطرات چې د هوا د حالتونو د اعظمی پیښو (Extreme Weather Events) پورې اړه لري. مثلا سیلابونه، طوفانونه، ګرمي څپې، اورونه او شدید اورښتونه
3. هغه خطرات چې قربانیان یې یو خاص ګروپ یا یوه خاصه ساحه وی.
4. هغه خطرات چې په اوسط ډول د اقلیمی بدلون د نړیوالو اقتصادی او ایکولوژیکي تاثیراتو پورې اړه لري.
5. هغه خطرات چې د یوې واحدی پیښې له امله رامنځ ته کیږي او نه جبران کیدونکي دی. مثلا د ګرین لینډ د یخچالونو ویلی کیدل چې په نړیوال اتمسفیر کې د میتان ګاز اندازه زیاتوي او تودوخه لوړوي.

د هغو هڅو او کړنو مصارف چې د اقلیمی توافق په پلان ګذاری او عملی کولو کې مرسته کوي د GCF لخوا تر ۲۰۵۰ میلادی کال پورې هر کال د ۱۴۰ بیلیون ډالر څخه تر ۵۰۰ بیلیون ډالرو پورې اټکل شوي دي.

یو کامیابه اقلیمي توافق هغه وخت شوني دی چې د هیواد پر سطحه د اقلیمی ننګونو او خطراتو څیرنې ترسره شي، منظم پلان جوړ او د دولتي او غیر دولتي سکتور تر څنګ ولس سره په همغږي عملی شي څکه چې دا هر اړخ د اقلیمی بدلون په کمولو او زیاتوالی کې د پام وړ ونډه لري. نړیوالی مرستې را جلب شي. او ددې پروسې پر وخت باید عامه پوهاوی، مالی او تکنالوژیکي مرستې او علمی او تخنیکي ظرفیتونه لوړ کړل شي، معلومات پر وخت شریک او د خبراترو لپاره تر بل هر وخت باید سیاسي ساحه پراخه وي تر څو هر لوري په دغه پروسه کې شامل وي.

**لاندي هغه حل لاری چې د اقلیمی بدلون په کموالی او توافق کې مرسته کوی**

**د ډنډونو(Wetlands) او ساحلی ډنډونو ساتنه**

سالټ مارش، ماینګروز او بحری واښه هغه ایکوسیتمونه دي چې د اوبو د طبیعی فلټر حیثیت لري او د بحری حیواناتو د اوسیدو ځای دی. دغه ایکوسیستمونه د بحر د سطحی د لوړوالی پر وړاندي دفاع او مقاومت کوي او د طوفانونو او سیلابونو پر وړاندي مقاومت او ساتنه کوي او په ټنونو کاربن په خپلو ریښو او خاوره کې جذبوي چې د اقلیمي تغیر د کموالی ترڅنګ په توافق کې هم مرسته کوي.

**د انرژی غیر مرکزي تقیسم**

اقلیمی بدلون د هیوادونو د انرژي یا بریښنا د انتقال او تقسیم وسایل او ساختمانونو زیانمنوي او په عین حال کې نفوس ورځ به ورځ زیاتیږي چې ورسره د بریښنا غوښتنه په ډیریدو ده. د بریښنا هغه سیستمونه چې مرکزي دی او ډیره ساحه یې تر پوښښ لاندی ده د اقلیمی بدلون د مستقیم ګواښ لاندي دی. غیر مرکزي سیستمونه چې د انتقال مزی یې کوچنې ساحه تر پوښ لاندي نیسی او بریښنا یې په کمه ساحه کې تقسیم شوي وي د اقلیمی تغیر سره په زیات توافق کې دی څکه چې که په یوه ساحه کې د اقلیمی بدولون د یوې پیښې له امله د نورو سیمو بریښنا نه قطع او نه ضایع کیږي.

**د یو سیمی د اصلی اوسیدونکو حقوق**

د یو سیمی د اصلی اوسیدونکو د ځمکی حقوق خوندی کول ځکه چې د ځمکی ۵۰٪ ساحه د سیمیزو او اصلی اوسیدونکو په واک کې ده او تقریبا تر دوه نیم بیلیونو خلک د خپل ژوند لپاره په دغه ځمکه تکیه کوي. دا هغه ټولني دي چې د طبیعي تغیراتو سره یې توافق کړي او ددي تغیراتو په اصولو ښه اشنا او کافی معلومات لري، هغه معلومات چې حتی ساینس ورته هم اړتیا لري. دغو ټولنو ته باید د اوسیدو قانوني حق ورکړل شي ترڅو د اقلیمی تغیراتو په صورت کې د غه ځمکه او شته طبیعی منابع وژغوري او هم خپل ژوند په دوامداره توګه جاري وساتي.

**عامه ترانسفورت ته وده ورکول**

د نړیوال ترانسفورت ۷۲٪ اخراجات د سړکونو د ترانسفورت څخه دی او دا هغه وخت کمیدای شي چې عامه ترانسفورت ته وده ورکړل شي او د خلکو لپاره پکي اساني رامنځ ته شي. عامه ترانسفورت پداسی ډول ډیزاین شي چې د اقلیمی بدلون له تاثیراتو سره مبارزه وکړلای شي مثلا د سیلابونو څخه بچ او د ګرمو څپو پر وړاندي مقاومت وکړلای شي. که په نړلواله کچه عامه ترانسفورت ۴۰٪ پراخه شي نو تر ۲۰۵۰ میلادی کال پورې به د موټرو شمیر ډیر کم او د 6-6 ګیګا ټن اخراجاتو مخه به ونیسی.

**د خطر په اړه د خبر ورکولو سیستم**

له پیښي وړاندي خبر ورکول هغه ټکنالوجي ده  چې په دقیق ډول د سیلاب، طوفان، ګرمه څپه او یا د یو خطرناکی موسمي یا اقلیمی پیښي وړاندوینه او خبر ورکوي. د یو راپور مطابق که چیرته ۲۴ ساعته وړاندي د یو پیښي خبر ورکړل شي نو دا به د تاوان کچه تر ۳۰ فیصدو راټیټه کړي او که چیرته مخ پر ودې هیواونو کې ۸۰۰ میلیون ډالر په دغه سیستمونو ولګول شي نو به هر کال کې به تر ۳-۱۶ بیلیونو ډالرو تاوان مخ ونیول شي.

**د ساختمانونو سم مدیریت**

باید ودانیو او کورونو جوړول له هغو سیمو څخه لرې وي چې د سیلابونو د مستقیم ګواښ سره مخ دي او د کورونو، اوبو او د زبالو سالم مدیریت ترسره شي.

**په وچه ځمکه د زراعت زیاتوالی**

باید پر هغه ونو او بوټو څیړنې وشي او وکرل شي چې د وچکالی پر وخت زیات اغیزمن نشي او اقلیمی بدلون له تاثیراتو دفاع کولای شي.

**د اوبو مدیریت**

دا چې اقلیمی بدلون پر اوبو سخت اغیز کوي نو د اوبو سالم مدیریت د اقلیمی توافق یوه مهمه برخه ده. نن ورځ تقریبا 3.6 بیلیونه خلک کم تر کمه په کال کې یوه میاشت پاکو اوبو ته لاس رسی نه لري او تر ۲۰۵۰ میلادي کال پورې به 1.4 بیلیونه نور خلک دا ستونزه ولري. یو کامیابه اقلیمی توافق باید پر اوبو زیات تمرکز ولري او د اوبو په منابعو او ساختمانونو کې د پام وړ پرمختګ راولي او هم د اوبو سره تړلي طبیعی پیښي مثلا سیلابونو او وچکالي پر وړاندي جدی تدابیر ونیسي.

**د ښارونو منظم جوړښت**

ښارونه هغه ځایونه دي چې ډیر خلک پکې اوسیږي چې اقلیمی تغیر پکې زیات شمیر خلک اغیزمن کولای شي. د ښارونو منظم جوړښت کې باید کورونه او ساختمانونو د اقلیمی خطراتو په پام کې نیولو سره جوړ شي او شنو ودانیو تر ترجیح ورکړل شي او ونې او بوټې وکرل شي.

**د طبیعی افتونو مدیریت**

اقلیمی تغیر له امله په چاپیریال کې رامنځ ته شوي افتونه لکه سیلابونه، طوفانونه، ځمکه ښویدنه، د بحر د سطحې لوړوالی، اعظمی موسمی پیښي، ګرمي څپې او نور چې دا د معمول خلاف ډیر په شدت او تکراري ډول رامنځ ته کیږي چې باید د اقلیمی توافق پلان ددې پیښنو په وړاندي پر وخت عکس العمل او اقدامات وکړي.

**زراعت**

اقلیمی تغیر په رزاعت باندی زیات تاثیر لري، وچکالی رامنځ ته کوی او فصلونه د خطرسره مخ کوي. همدارنګه زراعت د اقلیمی بدلون په زیاتوالی کې هم پوره ونډه لري ځکه چې زراعتي کړنی اتمسفیر ته CO, N2O او CH4 ګازونه داخلوي چې ددغو ګازونو مدیریت په اقلیمی بدلون کې د پام وړ مثبت بدلون راغوستلای شي.

لاندی هغه کړنې دی چې په اقلیمی تغیر سره د زراعت په توافق کې مرسته کوي.

- باید د نباتاتو هغه نوعي وکرل شي چې په خاوره کې د مالګې د زیاتیدو، سیلابونو، وچکالي او ګرمي او یخني په وړاندي مقاومت وکړلای شي او هم لږې اوبه مصرف کړي.
- د سیندونو او د اوبو د منابعو مدیریت او ظرفیت باید لوړ کړل شي ترڅو د اوبو د ضایع کیدو مخنیوي وشي. له هغه ټکنالوجي څخه استفاده وشي چې د اوبو او د خاورې د نمي ساتنه کوي او هم د اوبو استعمال او انتقال په مواثره توګه سرته رسوي.
- د فصلونو پر وخت مدیریت او دهقانانو ته د ناروغیو او اقلیمي بدلون پر وړاندي لازم پوهاوی ډیر ضروري دی. د هغو نوعو استعمال باید زیات شي چې د حشراتو او ناروغیو پر وړاندي مقاومت کوي.
- اقلیمي وړاندویني باید پر وخت له ښکیلو اړخونو سره یو ځای شي ترڅو د تولیداتو د توان کچه پر وخت راتیټه شي.
- مختلفو نوعو نباتات باید وکرل شي او هم خاورې ته تر یوه وخته باید وقفه ورکړل شي ترڅو خاوره خپل اړین مواد بیرته پوره کړي.

**زمونږ او دولت شریک رول**

- باید هغه عادتونه اختیار کړو چې چاپیریال او طبیعت دوستانه وي.
- زیاتې اوبه باید وڅښل شي. په کاري وخت کې باید وقفه هغه وخت وي چې ګرمي زیاته وي.
- باید د چاپیریال د منابعو به استعمال کې د اصراف کولو څخه ډډه وشي. دوهم ځل استعمال شي او یا یې د بیا نوي کیدو هڅې وشي.
- هغه خواړه وخوړل شي چې د کاربن اندازه یې کمه وي. د غوښې خوراک کم کړل شي ځکه چې مالداري هم د اتمسفیر د ککړتیا یوه مهمه سرچینه ده. هغه خواړه ډیر وخوړل شي چې موسمي او سیمیز وي. له هغه خوړلو له استعمال څخه ډډه وشي چې په فابریکو کې تر پروسس وروسته رامنځ ته کیږي.
- د ځنګلاتو، ایکوسیستمونو او شنو ساخو ساتنه وشي او باید ډیري ونې وکرل شي.
- باید د دولت سره لازمه همکاری وشي او هم له دولت څخه د نوي کیدونکو انرژیو، عامه ټرانسفورټ او د زبالو د سالم مدیریت غوښته وشي.
- دولت باید په ادارو کې د خطر د وړاندوینې سیستمونه فعال کړي. عامه پوهاوی او چاپیریالي فرهنګ د خلکو تر منځ عام کړل شي.